مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

محمد نقیب تره خیل

۲۰۱۹/۰۲/۱۸

# رینښتني شخصیت د عوت ۳۰کلن کړ

طارق بزګر له تنکۍ ځواني پدې باور وه چې تفکرد معرفت او معرفت د هدایت او هدایت د رضایت،قناعت او د رینښتنی شخصیت تومنه ده.نو هغه د تفکر په قوت د پیسو ګټلو پر ځای د علم ګټل خوښ کړل. معرفعت هاغه د معنویت واټ ته هدایت کړ،هدایت هاغه راضي او قانع کړ، چې د ثروت او قدرت عمر لنډ او تنګ وي.او بل که د قدرت په وخت کې د شخص نفس مهار او خسي نه وي؟ نو بیا مستي او هوس زېږه وي او له قدرت نه انحرف کوي چې لامله يې ظلم او استبداد زېږېږي .هر څومره چې د ټولنې منوره او حاکمه طبقه ریاکاره خودخواه او جاطلبه کېږي،بیا همهغومره فتنه او فساد زېږه وي،څنګه چې همداسې په افغان ټولنه کې وشول اولا هم کېږي .یو شمیر کسانو په دا ۴۰ کالو کې د هېواد د ننه او بهر په لس هاوو ګوندونه تنظیمونه په سل هاوو آدبي فرهنګي کولتوري ټولني د هیواد،اسلام ،انسان او قوم پالني ترنامه لاندي جوړې کړی دي.خو هر هغه د ژمنو خلاف عمل وکړ، هغوي د ثروت او قدرت موندو په تمه همدا کولتور ي او سیاسي دفترونه د اسلامیت انسانیت او قومیت پلورنې هتۍ ګرځولي.له همدې لامله د آرزښتنو پلورل د اکثرو افغانانو عادت شوی.له ټولنې حیا کډه شوی او بېشرمي په کې معاف شوی.همدا د ارزښتونو سوداګر په جبر او ظلم ثروت او قدرت ترلاسه کوي. بیا په ورته ډول قدرت ترې آخستل کیږي.د سلطنت له مرګ سره یی د شخصت مرګ جوخت وي .

دا منلې او عملي شوې وینا که انسان قدرت ته په ګونډو نشي ثروت ته خامخا تسلیمیږي. بزګرهم د ابرهیم ابن آدهم غوندې د خپل مضبوط ایمان پر باور او د نفسي سپلځتیا په قوت پورتنې وینا د خپل ځان په اړوند باطله کړې آبن دهم د بلخ سلطنت دعلم د ذده کړې او د انساني خدمت پر مقصد د مکي معظمې پر قصد پرېښود .ډېر کلونه وروسته د بحر په څنډه آدهم خپلې څېرې او شړېدلې جامې ګنډلې، پر آس سپورکس یې تر څنګ تېرېږي،ورته ځیر ګورې پېژني یې چې زه خو د دې سلطان یو وخت وزیر وم .ورکښته کېږي او آدب یی کوي، ورته وایي اِې سلطانه ولې دې بې هېڅه خپل سلطنت اوعظمت پرېښود او ځان دې پدې مصیبت او مشقت اخته کړ .هغه ورله وایی، ترهغه سلطنت مې دا ډېر پراخ ښکلي او با قدرته دی، ابراهیم ستنه بحر ته ګذاره وي،بیا غږ کوي، راکړه ستن مې، یو زر کبان له اُبو سرونه اوچتوي او د سرو زرو ستنې په شونډو کې نیولې وي.وې، نه،زه مې خپله ستن غواړم.شېبه وروسته همهغه ستنه یو کب ورته له اوبو راباسي .بل ځل ابن آدهم د مکې په کوڅه کې قدم وهي،یو یهودې هلک له خپل سپي سره ورپسې تعقیب وي کله چې هاغه تم شي دا هلک هم تمیږي.خو څه وخت چې ابراهیم د ناستو کسانو خواته رسیږي.دا هلک پرې داسې غږ کوي؛اې بډا دا ستا ږیره ښکلې ده، که زما د سپي لکۍ؟هاغه ورته وایي زویه؛ که مې دا ږیره د خدای لپاره نه د ریا لپاره پرې ایښبوي او په ورځ د محشر زه په جهنم کې اوسم،نو دسپي لکې د ښکلي ده او که په جنت کې یم بیا نو زما ږیره ښکلې ده ،هلک ړمبې خجالتیږي،بیا وردرومي دهغه لاسونه ښکله وي او د شهادت کلمه وائي مسلمان کیږي.بزګر صیب هم د ناروې په هستۍ او د ځوانۍ په مستي کې ثروت او قدرت دواړه د علم د ذکرې او رینښتني خدمت په نسبت بابېزه وګڼل .تر څنګ یې د حق په پلوې او د باطل پر ضد د دعوت آدبې آخلاقي او روزهنیز سنګرجوړ کړ.یقیناٌ چې ډېرو هېواد والو به د دعوت په رڼا د حقیقت لار موندلي وي .د دعوت رسنۍ د بزګر رینښتینولي او یومخي اثباته وي چې د مکان زمان او حالاتو تابع شوی ندي، نن هم خپل هدف ته هسې ژمن دي لکه ۳۰ کاله پخوا چې وه.ابراهیم د ادهم اولادې ته د پلار میراثي سلطنت او ثروت بشپړه ورپرېښوول د آدهم اولاد چې د شخصیت مشروعیت د سلطنت له درباره اخیستی وه .نو د سلطنت له بایللو سره جوخت بېشخصیته هم شول، خوابراهیم چې یو سر او دوه غوږه نوم ورکې مکې ته راغلې وه،او د پوهې په رڼا د عقېدې په مضبوطتیا د نفس په سپېځلتیا د مهره بانه او عادل زړه په لرولو یې خپل کوچنې او لنډ عمره شخصیت ستراو تلپاتي کړ.د دې تر څنګ یې آن د کورنې مړ شخصیت ژوندې وساته.د هر انسان د کار محصول د هغه د حقیقي شخصیت بڼه ښيئ،د بزګر شخصیت دعوت دي او دعوت د پوهۍ او کولتور مرکز نن هم ژوندی دي اوسبا به هم وي .

محمدنقیب تره خیل ۱۴/۲/۲۰۱۹



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ